# څلوریځې

ننوات مې د ستا هیڅ قبول نشو
ستا د کاڼی زړه پرما هیڅ تعد یل نشو
د غرور او تکبر په نیلي سپوره
آراده د زړه مې تا ته تسجیل نشو
**** دوکتور سیدحسام «مل»

# ګلان

که مې ګل بویول بڼ کې ډیر ګلان وه
که پرچا مې زړه بایلل بې شمیر خوبان وه
له ګوګله چې مې زړه درپسي لاړ
هغه وخت چې تبسم ستا په لبان وه
بلبل نه یم چې د هر ګل په طواف شم
ستا یا ری ته مې له وخته ډیر آرمان وه
«مل» چې زړه پرتاورکړی بې ځای نه دي
ځکه راز د مینې ستا په تورچشما ن وه
*** پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»
جرمنی ۲۰۱۶-۱۲-۱۵